آریانا افغانستان آنلاین

http://www.arianafghanistan.com

صلاح الدین سعیدی

۲۰۱۷/۰۱/۱۸

# طوفاني ورځ په انتظار!

پرون ۲۰۱۷/۱/۱۷ له امریکایي ژورنالست سره غږیدم.

پوښتنه مي وکړه : د راتلونکی جمعي په ورځ (۲۰۱۷/۱/۲۰) د امریکي د منتخب جمهور رئیس "دونـالـد ترامپ" د لوړي مراسم دي. تاسي له دې ورځې او ترامپ څه توقع لرئ؟



غلی شو او داسي مانا داره یي راته وکتل او بیا یي راز غبرګ کړل :

له "تـرامـپـه" توقع نه لرم خو آرزو مي ده چي هغه ورځ یو بد شمال او باد شي.

ما پوښتنه وکړه دا بد باد څه مانا لري؟

هغه چي نا امیده ښکاریده او د امریکي د ټاکنو له نتایجو خواشینی وه، جواب راکړ: که باد او شمال شي نو بیا که خدای کول د "ترامپ" د وېښته او سر یو بل بدعکس به نړۍ ته څپور شي.

ما چي دده امریکایی ژورنالیست غوصي ته د "دونالت ترامپ" د انتخاب په هکله کتلي او د ترامپ بعضي نه اتکل شوي اظهاراتو باندې فکر کوم نو دعا کوم چي الهي خیر.

نړۍ د تمدنونو د یو بل ستر تقابل او د زور او توپک عصر سره مخامخه ده چي بیا به بیګناه انسانان مري او بشریت به بیا ستري قرباني ورکوي .

الهي دا برداشت او تصور مي خطاء کړي. آمین



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com